# د یوحنا رسول دریم لیک

## د کتاب پېژندنه

د یوحنا رسول دریم لیک هم په هماغه وخت کې چې د هغه اول او دوهم لیکونه لیکل شوي وو، د غایوس په نوم د کلیسا مشر ته لیکل شوی دی. یوحنا د غایوس قدرداني کوي، ځکه چې هغه د مېلمنو مسیحیانو سره مرسته کړې ده. همدارنګه هغه د دیوترفیس په هکله چې د مذهبي ټولنې یو ځان ښوونکی مشر دی، خبرداری ورکوي ځکه هغه د هغو مسیحیانو سره مخالفت کوي.

## د موضوعګانو لست


سلامونه: ۱: ۱ – ۴

همکاري او مخالفت: ۱: ۵ – ۱۲

وروستنی خبرې: ۱: ۱۳ – ۱۵




Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# سلامونه

١ د کليسا د مشر له خوا ګران غايوس ته چې په رښتيا
راباندې ګران دی. ٢ زما ګرانه ملګريه! زه دعا کوم چې په هر
کار کې بريالی اوسې او لکه څنګه چې په روحاني توګه روغ او
جوړ يې، نو همداسې په جسماني توګه هم واوسې. ٣ کله چې
ځينې ورونه راغلل او ماته يې ستا د وفادارۍ په هکله شاهدي
راکړه او دا چې ته تل په رښتينې لاره ژوند تېروې، نو ډېر
خوشحاله شوم. ٤ د دې نه زياته خوشحالي ماته په بل هيڅ
شي کې نشته چې کله واورم چې زما اولادونه په رښتينې لاره
روان دي.

## د غايوس همکاري او د ديوترفيس مخالفت

٥ ګرانه دوسته! ته په هغه خدمت کې چې دې مسيحيانو ته
يې کوې ډېر وفادار يې، که څه هم ته هغوی نه پېژنې. ٦ هغوی
د دې ځای کليسا ته وويل چې د هغوی سره څومره مينه کوې.
مهرباني وکړه د هغوی سره په سفر کې داسې مرسته وکړه لکه د
هغو خلکو په شان چې د خدای خدمت کوي. ٧ ځکه چې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغوی مسیح ته د خدمت کولو په خاطر په سفر روان شول او د
بېدینه خلکو نه یې هېڅ مرسته ونه غوښتله. (۸) نو مونږ باید د
داسې خلکو سره مرسته وکړو او د حقیقت په خپرولو کې د
هغوی سره ملګري شو.

(۹) ما ستاسو کلیسا ته یو لیک ولېږه، خو دیوترفیس چې
خپل ځان د نورو څخه لوړ ښایي، زما خبرې نه مني. (۱۰) که زه
درغلم، نو د هغو کارونو په هکله چې هغه یې کوي او زمونږ په
هکله بېځایه او بدې خبرې کوي، خبرې وکړم. هغه لا په دې هم
قناعت نه کوي، بلکې مېلمنو مسیحیانو ته د هرکلي ویلو نه هم
انکار کوي او نور هم نه پرېږدي چې هغوی ته هرکلی ووایي او
د هغوی مرسته کوونکي د کلیسا څخه شړي.

(۱۱) زما ګرانه دوسته، د بدی پیروي مه کوه، بلکې د نېکی
پیروي کوه. کوم خلک چې نېک کارونه کوي، هغوی د خدای
اولادونه دي او څوک چې بد کارونه کوي، هغوی هېڅکله هم
خدای نه دی لیدلی. (۱۲) ټول خلک د دیمیتریوس په هکله ښه
شاهدي ورکوي او حقیقت همدا دی. مونږ هم د هغه په هکله ښه
شاهدي ورکوو او ته پوهېږې چې زمونږ شاهدي رښتیا ده.



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

## وروستنۍ خبرې

۱۳ زما سره ډېرې خبرې شته چې غواړم تاته يې وکړم، خو
زه نه غواړم چې تاته هغه په قلم باندې وليکم. ۱۴ زه هيله لرم
چې ډېر زر دې ووينم او مخامخ در سره خبرې وکړم.

۱۵ سلامتي دې وي په تا باندې. ټول دوستان دې درباندې
سلامونه وايي، زمونږ هر يو دوست ته سلامونه ووايه.

تاسو پوښتنې لرئ؟ 9066.700.807 1+
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳